# د بل تر واک

# لاندې هېواد کې ټاکنې تشه دوکه ده

لیکونکی :هلال خېل

دا حقیقت ټولو ته پوره څرګند دی، چې د امریکا متحده ایالتونو او انډیوالانوو زمونږ سپېڅلی هېواد افغانستان د ترهګرۍ سره د مبارزې، افغان ولس ته د غربي دموکراسۍ ډالۍ کولو، افغانستان کې د بشري حقونو د ساتنې او د افغانستان د بیا رغونې د غولوونکو شعارونو په نامه د ۲۰۰۱ زیږدیز کال راپدې خوا د پوځي یرغل په نتیجه کې تر خپلې ولکې لاندې راوستلی دی. څه ناڅه۷ کاله کېږي، چې د افغانستان سیاسي، اقتصادي، پوځي او ټولنیزې چارې په مستقیمه توګه د امریکا د متحدو ایالتونو او ملګرو له خوايې کنترول ادراه کیږي.

په افغانستان کې تش په نامه واکمنان حتا د یو والي او نورو کارکوونکو د بدلون او ګوښه کولو واک او اختیار نه لري. ولسمشر ښاغلی کرزی، کابینه، د پارلمان غړي، او نور لوړپوري دولتي چارواکي د امریکایي مامورینو په صفت دندې سرته رسوي. په کراتو مو ولیدل او وینو، چې د امریکا او ناټو بې رحمه ځواکونه هره ورځ بې ګناه او مظلوم افغانان او په ځانګړې توګه پښتانه بې له کوم ثبوت څخه د القاعده او طالب په نومونو وژني، کلي، کورونه او کروندې یې وبجاړوي، خو تش په نامه ولسمشر کرزی چې پښتون قام ته د منسوبتیا له مخې دغه مقام ته رسول شوی دی، د امریکا او ناټو د پوځونو دکړنو په هکله د نیوکې او اعتراض جرئت هم نه لري ؛ یوازې د خبري رسنیو له لارې په ډېرو کمزورو الفاظو د امریکا او ناټو د پوځونو نا انساني او وحشیانه عملونو له کبله د خواشینۍ څرګندونې کوي.

په خواشینۍ سره باید یادونه وشي ،چې شته دی یوشمېر پلورل شوي او په بهرنیو جاسوسي شبکو پورې تړلي افغانان چې شور او زوږ یې اچولی او وایې چې اوس افغانستان ټاکل شوی (منتخب) جمهور ریس ، حکومت او پارلمان لري. حال دا چې واقعیت بل څه دی او هغه دا چې کله چې یو هېواد اشغال او د پردیو تر ولکې لاندې وي نو په داسې هېواد کې ازادې او عادلانه ټاکنې سرته رسول هیڅ امکان نه لري، بلکې یوازې دوکه، غلول او د خلکو په سترګو کې خاورې اچول دي.

داچې اوس د امریکا متحده ایالتونه او ملګرو یې یوځل بیا په افغانستان کې د افغان ولس او نړیوالو د تیرویستلو په منظور د جمهوري ریاست د ټاکنو ډرامه پیل کړې ده او خپل جلا جلا لاسپوڅي یې د ټاکنو د مبارزې سیالیو ته راړواندې کړي دي، امریکا او ملګري یې غواړي د ټاکنو د ډرامې په کار اچولو سره په افغانستان کې د خپلو پوځي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ناکامیو څخه د نړیوالو پام بلې خواته واړوي او په دې وسیله افغانان هم مصروف وساتي.

په پای کې دې نتیجې ته رسېږو ، چې تر څو چې په افغانستان کې بهرني پوځونه موجود وي او دافغانستان ټولې چارې د امریکا او انډیوالانو په ولکه کې وي په افغانستان کې ریښتینې، آزادې او عادلانه ټاکنې یو تش خوب او خیال دی. اړینه ده چې لومړی افغانستان آزاد او خپلواک شي، افغان ولس د خپل واک او اختیار څښتنان شي او افغان ولس د بهرنیو له خوا د تپل شوي اساسي قانون پر ځای د خپلو عیني او ذهني شرایطو او اسلامي او ملي غوښتنو سره سم اساسي قانون تصویب کړي، ریښتینی ملي پوځ او ملي پولیس جوړ شي، افغانان له اقتصادي پلوه په خپلو پښو ودرېږي، نو هغه مهال په افغانستان کې آزادې، بې پلوه او عادلانه ټاکنې سرته رسیدلی شي. د پردیو تر ولکې او هدایت لاندې ټاکنې هیڅ مانا نه لري او تشه دوکه ده.

| |
|---|
| دا دنیا د لیونیو سپو بـــازار دی        د احساس خاونده سوچ درته په کار دی |

ما په تا او تا په ما باندې تل وژنـــي  مسيحا يې هم داړلی دايې کــار دی
پيښوري شينواري

# د افغانستان قومي - ژبنی جوړښت

لیکونکی: انجنیر محمد انعام واک

د افغانستان په قومي جوړښت کې، د وينې او ختې په بنسټ، د پښتانه په سلنه ډيرې نانديرۍ وهل ګټور کار ځکه نه دی، چې له يوې خوا «که شپه تياره ده منې په شمار دي»، پښتانه په يوازې ځان له ټولو شته افغان قومي ګروپونو نه په شمار کې زيات دي، له بلې خوا په سياسي لوبه کې ژبنۍ سلنه «رنګ پره» ده نه د وينې او ختې يوه. دا خو ژبنی جوړښت او ژبنۍ سلنه ده چې د دغه، هغه قومي جوړښت سياسي سلنه ښکته پورته بيايي.

پښتون قومي ګروپ د ژبې د ويونکو د شمار له مخې هم له نورو افغان قومي ګروپونو ډېر دی، خو د رسمياتو، دولتي سياست او بېروکراسۍ په ډګر کې د پښتو ژبې نشتوالي او يا کمزوري شتون د پښتنو سياسي ملا ماته کړې، د ژبې ستونزه، بياهم، يوه درنه ملي ستونزه ده. نو له هغه ځايه چې قومي – ژبنۍ سلنه سياسي پايلې لري، د خپلې خوښې سلنې وړاندې کول غټ ملي تاوان دی. د قومي ګروپونو سلنه، نه له سخاوته د شلغمو ډک تول دی او نه د دغه، هغه قومي- ژبني ګروپ له جبه خيرات ورکول کېدای شي.

## قومي جوړښت:

د افغانستان له پاره د واک فونډېشن د قومي جوړښت شپږ کلنې ( ۱۹۹۱ –۱۹۹۶) سروې او څېړنې وښوده چې پښتانه په سلو کې د افغانستان د ټول نفوس ۷۳،۶۲ (دوه شپېته اعشاريه دري آويا)، تاجک ۱۲،۳۸(دولس اعشاريه آته دېرش)، هزاره ۹( نهه)، اوزبک ۶،۱۰ (شپږ اعشاريه لس)، ترکمن ۲،۶۹( دوه اعشاريه نهه شپېته) او ايماق ۲،۶۸( دوه اعشاريه آته شپېته) نفوس جوړوي.( وګورئ: د افغانستان قومي جوړښت، د افغانستان له پاره د واک فونډېشن شپږ کلنه، ۱۹۹۱-۱۹۹۶، سروې او څېړنه، د ساپې د پښتو څېړنو او پراختيا د مرکز چاپ، ۱۳۷۷ لمريز کال، پيښور).

د افغانستان له پاره د واک فونډېشن د سروې او څېړنې سلنې تر اوسه پورې د افغانستان د قومي جوړښت په اړه له ټولو بهرنيو او کورنيو خپرو شويو سلنو نه درنې او د اعتبار وړ دي.

د افغانستان د قومي او ژبني جوړښت په اړه د CIA او ناتو NATO په ګډون د ټولو خپرو شويو ايرانۍ ډولو «سلنو» او «نقشو» شا ته افغاني - پښتني ضد سياسي اهداف پراته دي. غټ امريکايي افغانستان پوه «لويس ډوپرېDupree Louis» په آويايمه لسيزه کې هزاره ګان په سلو کې د افغانستان د ټول نفوس ۶ (شپږ) وښودل، خو CIA په آتيايمه لسيزه کې ۱۹ (نولسو) ته ورسول. ډوپرې په هماغه لسيزه کې، پښتانه په سلو کې د افغانستان د ټول نفوس۴۶ (شپږ څلوېښت) وښودل، خو CIA د بن د دوه زره يوم ۲۰۰۱ کال په تړون کې په سلو کې « اته ديرشو» ته راښکته کړل.

قومي - ژبنۍ سلنه، په حقيقت کې، سياسي سلنه ده. د ډېرې اريانتيا ځای دی چې مياشت، دوه مخکې د افغانستان د مرکزي احصائيې د ادارې د يوې څانګې پښتون رئيس په کابل کې له آريانا (؟) ټلويزيون سره د افغانستان د را روانې سرشمېرنې پروژه، چې د افغانستان له قومي - ژبنی جوړښت سره بنسټيزې اړيکې لري، يوه غير سياسي پروژه وګڼله. دغه ډول رئيسان، وزيران، مشاور وزيران، ولسمشر، که په رښتيا ، دې ډول ملي پروژو ته په غير سياسي سترګه ګوري، نه ښايي دې ډول درنو ملي دندو او ملي پروژو ته وګومارل شي...

## پخوانی ژبنی جوړښت:

واک فونډېشن په نوييمه لسېزه کې د خپلې پورتنۍ سروې او په آتيايمه لسيزه کې د ملګرو ملتونو د UNIDATA د افغانستان د ژبو د يوې سروې له پرتلې نه جوته کړه، چې په سلو کې د افغانستان ۷۳،۷ ( اوه اعشاريه دري آويا) پښتنو، ۳،۰ (صفر اعشاريه درې) اوزبکو، ۲۹،۱ ( يو اعشاريه نهه ويشت) ترکمنو، په سلو کې ټولو هزاره ګانو او ايماقو، په سلو کې ټول ټال ۲۱ (يو ويشت)

قومي ګروپونو د خپلو مورنيو ژبو په پرېښودلو او د دري ژبې په کولتوري - سياسي بڼې کې په ويلې کېدو سره دري ژبي شوي دي.
همدغې ژبنۍ ويلې کېدنې، د افغان تاجکو قومي سلنه له ۳۸،۱۲ ( دولس اعشاريه آته دېرش) نه ۳۳ ( دري دېرش) ته جيګه کړې ده. تاجکو د ژبې له همدې ائتلافي سلنې نه، په پوره سياسي مهارت، په افغان سياست، پارلمان او کابينه، کې د تل له پاره د دېرشو په شا او خوا کې ونډه خپله کړې ده.

## نوی ژبنی جوړښت:

په افغانستان کې د شاهي نظام په له منځه تللو، په تېره بيا په افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د ۱۹۷۹ کال پوځي يرغل د افغانستان په ژبني جوړښت کې له ښه مرغه ګوتې ووهلې. له پخواني باچا، محمدظاهر، او قوماندان احمدشاه مسعود نه پرته، ډېرى پاړسي ژبو پښتنو افغانانو او غير پښتنو افغانانو هلته، له ډيورند لاين نه آخوا، په شمالي او جنوبي پښتونخوا کې پښتو ژبه زده کړه. اوس د افغانستان څه ناڅه ټول غټ او واړه قومي ګروپونه په پښتو ژبه خبرې کولای شي.
په پښتو ژبنۍ بڼې کې د غير پښتنانه قومي ګروپونو او پخپله د دري ژبو پښتنو د ويلې کېدلو په بنسټ، ويلای شو، پښتو ژبه له دې وروسته يو ائتلافي ژبنی ګروپ دی. که څه هم د دې ژبنې ويلې کېدنې کره عدد لا په لاس کې نه شته، خو د واک فونډېشن د وروستيو څېړنو لومړنۍ لاس ته راوړنې ښيي چې په ژبه کې نوموړې قومي ويلې کېدنې پښتو ژبه د بايلات له خپل پخواني کوره را وايستله. د دې ويلې کېدنې د يوه نسبي عدد تر لاسه کول به د پښتنو په ګټه د افغان ژبني جوړښت نوې سلنې لاس ته راوړي، خو يو په بل باندې د پښتنو د «قومي» او «ژبنۍ» سلنې د لګېدلو د مثبت کولتوري بدلانه په رښتينواله کې کټ وټ نشته.

## دولتي ژبنۍ پاليسي:

د ۲۰۰۳ کال د ډسمبر د مياشتې د اساسي قانون د تصويب لويې جرګې، قومي ګروپونه په بېلو بېلو ملي او محلي تيږو ودرول. پښتانه يې د «يوه موټې» افغانستان د بيا رغونې په نوم وغولول. يو شمېر بې پښتو پښتنو، ان امريکايانو او انګرېزانو، په پښتو ژبه باندې د لويې جرګې ولاړ پښتانه غړي د پښتو ژبې له ملي کولو نه تېر کړل. پښتو ژبه، بياهم، و نه توانېده د يوې بالفعل کولتوري- سياسي پدېدې په توګه د افغان ملت جوړونې بهير ته مثبت تګ لورى ورکړي.
د اساسي قانون شپاړسمې مادې د هيواد د دوو غټو ژبو په توګه پښتو او پاړسي دواړه د هيواد او دولتي ژبو په کچ او يو لړ کوچنۍ ازبکي، ترکمني، بلوچي، پشه يي ژبې يې په سيمه ييز کچ رسمي کړې.
که په کوچنيو ژبو کې د غټې ژبې په توګه د ازبکي ژبې رسمي کېدل پښتو ژبې ته، په ښکاره، کومه بالفعل ګټه نه لري، لږ تر لږه پاړسۍ ژبې ته باالقوه کولتوري - سياسي تاون لرلی شي.
په پښتو ژبه باندې د ملي ترمينالوژۍ د ليکلو او ساتلو له پاره د اساسي قانون د ترمينالوژۍ پاراګراف ګونګ او کمزورې دی. پښتو ژبې ته، د پخوا په څېر، د ملي ترمينالوژۍ د وياړ د ورکولو دا کمزورى پاراګراف د افغانستان د رښتينې ملي ژبې، پښتو، حق نه شي خوندي کولای. دې پاراګراف هم د افغانستان د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون د پينځه دېرشمې مادې په څېر د پښتنو په سترګو کې خاورې شيندلې. په داسې حال کې چې د افغانستان د رسمي ژبو يادونه د هغه قانون په درېيمه ماده کې شوې وه، خو د ملي ژبې خبره بيا دېرش مادې وروسته، په پينځه دېرشمه ماده کې راغلې وه. د ژبې هغه پخوانۍ ژبنۍ شاهي پاليسي د ښاغلي حامد کرزي د ژبو له نننۍ امريکايي پالسۍ سره څه ځانګړى توپير نه لري. پښتانه په خپل کور کې بې کوره او د خوار ژوند ورځې شپې تېروي.

د قام قاتل راته ویل ماشومان مه لـمسوه        ماورته ویل هغوی ته چل د بغاوت نه ورځي
ده راته ویل نور بې لشې لیډران مه جوړوه        ماورته ویل پښتون ساده دي سیاست نه ورځي

# په ټول هېواد کې سمسمکی دی!!!

لیکونکی: یوسف (غیرت)-ننګرهار

په هغه ورځ چې د بن تاریخي غونډه کېدله د افغانستان په برخلیک کې نړیوالو ټولنو د خپلو لوربینو بې شمېره ملغلرې په افغان ولس وشیندلې او ټولو په یو ه غږ د یو قانوني حکو مت د جوړېدو او د پوره امنیت د راوستو لپاره کلکې ژمنې وکړې، له نیکه مرغه هغه ټولې ژمنې په عمل کې پلي شوي دي!! مانا دا چې په افغانستان کې د ټولټاکنو له لارې منتخب دولت، حکومت او ملي پارلمان رامنځته شول، ټول لوړ پوړي چارواکي د مسلکي مهارتونو او ټولنیز احساس د لرلو په بنیاد ټاکل شوي، له خیره سره د دولت ټولې ادارې په پوره شفافیت د هېواد پالنې په لوړه روحیه د هېواد د بیارغاونې په کارونو بوختې دي !

په هېواد کې د بیروکراسۍ ، رشوت او چل ول هېڅ نښې نښانې نه په سترګو کېږي په ټول هېواد کې پوره امنیت تامین دی، جګړې باالکل ختمې دي، افغان ولس د خپل حکومت څخه ډېر خوښ دی، د هېواد په هر ګوټ کې خوراکي توکي ډېر او په ارزانه بیه پیدا کېږي په هر ښار کې نرخونه د ښاروالیو لخوا په ډېر ځیر سره کنترولېږي، په ټول هېواد کې د وېرې چاپېریال ختم او کور په کور په افغانانو کې د صمیمیت روحیه ژوندۍ ښکاري، زموږ قاضیان او څارنوال صیبان ډېر خدای پرسته او عالمان دي چې د خلکو دعوې دنګلې د قانون له مخې په اسلامي شریعت فیصله کوي او دا خبر ه به نا اشنا وي چې د زرګونو او لکونو روپو د رشوت ګوته ورته ونیول شي، زموږ پولیس هم د ټولنې پوره خدمتګاران دي، نه د چا جیب ته ګوري او نه څو ک بې ځایه ځوروي دا د ډېر ویاړ ځای دی!! له نیکه مرغه اداري فساد په پوره ډول له منځه تللی، زموږ اسلامي دولت هم د غاصبینو سره پو ره حساب کړی او ملي شتمنۍ یې د هغوی له منګولو څخه خلاصې او د دولت خزانې ته تحویل کړي او هیڅو ک نشي کولای چې ددولت ملکیت په ځان پورې وتړي، زموږ لوړ پوړي چارواکي ډېر بې وسه دي په نیمه ګېډه ساده ډوډۍ ددې لپاره خوري چې تل د بې وزلو افغانانو د لوږې څخه خبر وي، ټولو چارواکو او د قدرت خاوندانو تراوسه شخصي بنګلې او کروزین موټرې ندي پیدا کړي او نه غواړي چې بیت المال د خپلو ځانونو څخه قربان کړي، څو ورځې مخکې د یو انډیوال چارواکي کورته په غرمه کې ورغلم ومې لیدل چې نوموړی جناب د بېګاه څخه پاتې شوې سړه ډوډۍ د پیازو او شرومبو سره خوري او د ټولنې د خدمت په فکر بې خوبه او غمجن ناست دی، بله د خیر خبره داده چې هېواد ته د ټولو مرستندویه ادارو مامورین بېچاره ګان په ډېره کمه بیه په خامه کورونو کې دفترونه نیولي ، په جنراتورونو ایرکنډیشنونه نه چلوي او د ګرمۍ د لا سه پـه بـبوزو ګـوزاره کـوي او معاشونه یې هم د نشت برابر دي په ملیاردونو راغلي ډالر یوازې د هېـواد پـه بیارغو نه کې په مختلفو ساختماني پروژو لګوي دې ته وایې د قربانـۍ احساس!

بله داچې د دولت د ټولو مامورینو تنخوا ګانې د وعدې سره سمې دومره لوړې شوي چې اقتصادي ستونزې ورته نه دي پېښې، ددولت هر ما مور د مراجعینو سره پوره همکاري کوي، او د یو ورځې کار ورله بلې ورځې ته نه پر یږدي، ټول افغان ولس په ګېډه موړ او پټ دي اوپه لارو کو څوکې یو سوا لګر هم نه لیدل کېږي، بله دا چې زمو نږ افغا ني فر هنګ هم د ودې په حال کې دی ، د پردیو تهذیب او کلچر دلته هېـڅ رواج نـه دی موندلی، د بلې خوا په هېواد کې ځانځانۍ او تربګنۍ ختمې شوي ، او ټول هېواد وال په ارامه او سوکاله فضا کې ژوند تېروي!! را غلونړیوالو ځواکونو تر اوسه پورې یو بې ګنا ه افغان هم نه دی وژلی او نه یې په بې رحمانه ډول د چا د کور تـالاشـي کـړی، دغـه ځواکونه زمو ږ عقیدې او افغاني فر هنګ ته درنا وی لري او ټول هېواد یې د مخا لفینو څخه پاک کړی، اوس مهال په ټول هېواد کې سمسمکی دی او افغان ولس د هېڅ ډول ستو نزو سره مخا مخ نه دی، لنډه داچې زمو ږ ښې افراطي شنو نکي په دې عقیده دي چې کـه حالات داسې روان وي او را تلونکي حکو متونه د خپل ملت په وړا ندې همداراز دریځ غوره کړي نو ډېر ژربه افغانستان په نړیواله کچه د یوه ازاد ، مستقل او پخپل ځان متکي هېواد په نوم و نومول شي.

د خپل عقل په هنداره کې يــــــې ګوره
دا ليکنه مې د زړه د وينو جــــــوش دی
تور د سپينو په لباس دلته ځلــــــېږي
دا انځور مې نن جوړ کړی ډېر په هوش دی

# احدي صاحب هم «خان آباد» ته روان دی!

ليکونکی: انجنير محمدانعام واک

پېښور ته به مې د مهاجرت، خدای مې دې غاړه نه بندوي، لومړی، ۱۹۸۲، کال و. د ټولو مجاهدو تنظيمونو خپرونې به مې ارومرو له نظره تېرولې، خو د ښاغلي حکمتيار صاحب د «حزب اسلامي افغانستان» مرکزي خپرونه، شهادت، به مې ټکی په ټکی لوستله .

يوه ورځ مې د شهادت د يوې ګڼې د «استاذ هم خان آباد ته لاړ» په يوه غوره طنزيه سرليک سترګې ولګېدې. خان آباد ته د تګ طنزيې، د اتحاد اسلامي افغانستان له مشر ښاغلي استاذ عبدالرب رسول سياف سره، مؤدبانه شوخي کړې وه. طنزيې د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ په مياشت کې، د کابل د څرخي پله له زندان نه د استاذ سياف په وتلو، پېښور ته د هغه د مهاجرت او د کيسه خانۍ، د چا خبره، په کوم زاړه سماوار کې د هغه د ديره کېدلو کيسه او خپلو اخواني ورونو ته د هغه نصيحتونه راخيستي ول ...

استاذ د پېښور په «فقيرآباد» کې خپل اخواني ورونه په «خانۍ» تورن کړي وو» :اوسېږئ په فقيراباد کې او پېښې، د چا خبره، کوئ د خان آباد!». طنزيې چې څه موده وروسته پخپله استاذ سياف تر ټولو غټ خان وليد ، نو بيا يې ورته په غټو، غټو تورو وليکل:

((استاذ هم خان آباد ته لاړ....))!

هو! څه موده وړاندې مې د آريانا تلويزيون د ماښام د شپږ نيمو بجو په پښتو خبرونو کې د افغانستان د ماليې محترم وزير ښاغلی انورالحق احدي، چې په خوږه دري ژبه يې په امريکايي ډالرو باندې د افغانستان د ولسمشر، وزيرانو او ولسي جرګې د غړو د معاش زياتوالی اعلاناوه، وليد...

د لوږ پوړو چاراکو د معاشونو زياتوالی بلا ورپسې، خو چې لړ ترلړه له ډله ييزو رسنيو نه اعلان شوی نه وای؛ چې د عام ولس او وړو مامورينو او بې وزلو ښوونکو په زخمونو يې، لړ تر لړه، مالګه نه وای دوړولې. سل ځله دې د حکومت او حامد کرزي خو څه کوې، د احدي صاحب غوندې يوه شخصيت، په دې جرئت آفرين وي! په دري ژبه مې، له وياړه د احدي صاحب ډکو خبرو ته، د ښې لاس دويمه ګوته، په خپله، د غاښ لاندې شوه: په ۱۹۹۵ کال کې مې د پېښور په حيات آباد کې له احدي صاحب سره په افغانستان کې د پښتو ژبې د سياسي او کولتوري موقف په اړه جدي خبرې وکړې. احدي صاحب، له ښه مرغه، تر آخره په پښتو ژبه ولاړ پاتې شو. دومره آسانه خبره نه وه، دا زه، ورځه، هغه د چا خبره د جنت خان غروال، پوهاند مجروح، ډاکټر شګيوال، استاذ ذاکرخان، بل او بل په ګوګل باندې د «فقيرآباد» او «خان آباد» د بې غړو تومانچو او کلاشينکوفونو شنو شنو خاپونو ډار کړی وم، خو د احدي صاحب غوندې امريکايي مېشت زړور او غيرتي شخصيت کله له ملي ارزښتونو او پښتو ژبې تېرېده: « دولت مکلف دی د ملي ژبې پښتو د پرمختګ او تقويې له پاره کار وکړي». هماغه د افغانستان د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون پينځه دېرشمه ماده او د افغان ملت د ګوند د مرامنامې د کاڼې کرښې... خو اوس راشه احدي صاحب ته ګوره او وخت په وخت په دري ژبه باندې د هغه رسمي خبرو ته. هغه «پښتو» او هغه ((پښتو ژبه)) لاړه اوبه يوړه. احدي صاحب د دوه زره يوم ۲۰۰۱ کال د بن تر بد شاګومه تړونه

پورې هم، غټ سوسيال دموکرات وو. په سوسيال دموکراسۍ باندې دربدنې خو په ۱۹۹۵ کال کې د ګوند د رياست مقام ته وم رساوه. د افغان ملتي سوسيال دېموکراتانو له نظره، يوازې او يوازې سوسيال دېموکراسي وه، چې د مختلط اقتصادي سيستم د بيرغ په اوچتلو يې د ټولنې د بې وزلي پوړ سياسي او اقتصادي ملا تړله. د ۲۰۰۷ کال د جون په مياشت کې په کابل کې د لويې جرګې په کيږدۍ کې د افغان ملت د ګوند په پينځمه کنګره کې د احدي صاحب د مختلط اقتصادي سيستم عالمانه ارزونه، له مارکسيستي اقتصاد نه د کارل مارکس له ارزونې نه لا ډېره عالمانه وه. خو نن سبادا خو احدي صاحب دی، چې د آزاد بازار د اقتصاد او د سکتورونو د شخصي کونې علمي ارزونه کوي، نه هغه بې سواده په اصطلاح افغان ولسمشر. د افغانستان د آزادۍ د دوو مليونو شهيدانو برخه نن د احدي صاحب د عالمانه ارزونې په برکت، لګيا ده، د خپل سري آزاد بازار او اقتصادي مافيا په جېب کې لوېږي. عام افغان، پرېده چې د ملياردونو ډالرو په دې باران کې واښه خوري، د ښوونځيو ښوونکي په شپو، شپو نهاره ګرځي، خو وزير او معين، پلاو څه چې ډالر تفاله کوي. ښوونکی بې وزلی کرايي کور نه نشي نيولی، خو وزير او معين، په خپل نامه خو پرېده، د خپلو بچيانو په نومونو لا کورونه قواله کوي. له لوږې نه د وښو دې خوړو ته ګوره او هغه، دغه ته په يوه او بل نوم د ماليې د وزارت له شلو زرو نه تر دېرشو زرو پورې مياشتنيو ډالري معاشونو ته! د ټولنې د بې وزلي پوړ د لاسنيوي له پاره د مختلط اقتصادي سيستم انتخاب، هغه مترقيتوب او هغه سوسيال ډېموکراسي لاړه پيشو وخوړه...

يو شمار افغان ملتي مشران له ملي مسايلو سره په برخورد کې شړومبې، د چا خبره، په پوکي څښي او يو شمېر خو د ننني ملي مسايلو په اهميت او حساسيت له سره پوهېږي نه، خو چې احدي صاحب پوهېږي، په لوی لاس ځان پرې نه پوهوي. افغان ملتيانو ته، په کار وه، د سر شمېرنې او دې ته د نورو ورته ملي پروژو په سر يې، له هر چا مخکې ملي ميدان ته ور دانګلي وای، خو احدي صاحب دا لاره هم ډپ کړې: (( اوس يې وخت نه دي، شرايط خطرناک دي، چې ولسمشر شو، بيا به دا ملي مسايل حل کړي.))!

طالبان بلا پسې، د طالبانو له نامه لاندې، په لوی لاس د پښتانه د بنسټپال کولو ،د پښتانه د وژلو، سپکولو او له افغان سياست نه د پښتنو د ايستلو په وړاندې له يوې خوا او د غلا، فساد او ملي ارزښتونو د لوټ تالان په وړاندې د احدي صاحب چوپه خوله پاتې کېدل، له بلې خوا، نه يوازې احدي صاحب پخپله، بلکې د هغه په کيڼ جېب کې د افغان ملت پروت ملي ګوند هم د سياسي ګوښه توب کندې ته وغورځاوه. د هاتي په غوږ کې د افغان ملتيانو پرته مشريزه، د احدي صاحب له ډاره، په روان افغان سياست کې د موقف نيولو د منطق له دومره پياوړي بحران سره مخ دي، چې د دې ګوند مياشتنی نشراتي اورګان، افغان ملت، لا خپرولی نه شي. د لوېديځې نړۍ نوي، احدي صاحب ډوله، دېموکراتان د ختيځې ټولنې له ديکتاتورانو نه ډېر، ډېر ځانچاري وختل .

په نوييمه لسيزه کې مې، په پېښور کې، د افغان ملت د ګوند د درانه مرکزي نشراتي اورګان، افغان ملت، د مسئول مدير په توګه، څو ، څو ځلې له احدي صاحب سره د افغانستان په ټول نفوس کې د دغه يا هغه قومي ګروپ په سلنه تودې خبرې وکړې. احدي صاحب به چې ډېر راټيټ شو ، د پښتنو له پاره به په سلو کې د پنځوسو (له امريکايي ډوله) شمېره نه راټيټېده، خو احدي صاحب، د سږنۍ راتلونکې سرشمېرنې د ملي ضد او افغاني ضد پروژې له لارې، له پښتنو نه د اقليت جوړونې د «ستمي – ايراني» بهير په وړاندې غلی ناست دی. د سرشمېرنې داسې يوه پروژه، چې د افغانستان له سياسي ژوندانه سره نېغې اړيکې لري. دا ((نکټايي پوش)) او «مات ګوډ» پښتانه وزيران، خو دلته او هلته د ړانده طالب د ځای، ځای ټک، ټوک په زور د اسمان په شنو کې ګرځي، خو که دې ستميانو - ايرانيانو، پښتون يو وار په رسمي توګه په سلو کې د احدي صاحب له پنځوسو هم پسې راټيټ کړ، بيا به دا اوتو کړي پښتانه وزيران او چپنکي ولسمشران له «شېرچور» او «ګلخانې» نه، په رڼا ورځ، پسې واخلي.

يو شمېر ډېر پښتانه او غير پښتانه روڼ آندي، پروسږکال، په يوه انټرنټي ويډيويي فلم کې، د پنجشېر د مجاهدينو د پخواني کومندان، احمدشاه مسعود، د شهادت په کومه کليزه کې، د احدي صاحب سياسي غوړه مالۍ، چې ان پوهاند برهان الدين رباني ورته ګوته له غاښ لاندې نيولې وه، لا پسې په احدي صاحب شکمن کړل. احدي صاحب، احمدشاه مسعود ته، په ټوله آتيايمه او نوييمه لسيزه کې، د «کومندان» (کومندان مسعود) نه جيګه درجه ور نه کړه. د پنجشېر د مجاهدينو له کومندان نه ملي اتل جوړول او له ميرويس نيکه، احمدشاه بابا ، سلطان محمود غزنوي، سلطان شهاب الدين غوري او غازي امان الله خان سره په يوه تله د هغه تلل، د افغانستان د ملي اتلانو له سپکاوي نه بل شی نه شي کېدای. د حامد کرزي له دې کار سره د احدي صاحب څه کار؟ د احدي صاحب د ملي اتلولۍ لقب ورکونه د احدي صاحب هغه خپله خبره د «پوهېدو وړ نه ده». حامد کرزي د ولسمشرۍ په

ټولټاکنو کې له پنجشېریانو سره له خپلې هومره ژورې دوستۍ سره سره، بیا هم له پنجشېر نه تش لاس راووت. چا یوه ټکه، یوه رایه، ور نه کړه!

حامد کرزي غوندې ولسمشر او د هغه واکمنې ډلګۍ، د درېیم قوت منځمهالي او په اصطلاح مترقي، دموکراتان او سوسیال دموکراتان په شرمو وشرمول. نننی درېیم قوت د آبل پروني لومړي او پروني دویم قوت مخ سپین کړ. د درېیم قوت ملي ګرایان د لومړي قوت له کمونستانو، او دویم قوت له اخوانیانو نه ډېر کمزوري او د ملي ارزښتونو سوداګر او غله وختل. د افغان ملتي سوسیال دموکراتانو ګوتې په شمار بې کفایتې مشرۍ د درېیم قوت سیاسي میدان هومره شغالي کړ، چې پینځو تنو ایراني ډوله ستمیانو «سوسیال دموکرات ګوند» جوړ کړ او د ولسي جرګې په امریکایي فېشن سنباله یوه، نیمه پښتنه ستمۍ مېرمن لګیا ده «درېیم قوت» جوړوي. د پیره دارانو له بې غیرتۍ نه ګیدړان په بامو ګرځي .

نه د افغان ملت په ګوند کې چا احدي صاحب ته غوڅه ملی مشوره ورکړه او نه احدي صاحب، په خپل وار امریکایانو ته سپینه خبره وکړه. له حامد کرزي نه خو هسې هم د ملي تفکر او امریکانو ته د سپینې خبرې تمه نه کېده او نه کېږي.

احدي صاحب په رښتیا چې د افغانستان د عام ولس او روڼ آندو ملي هیلو ته ارزښت ور نه کړ.

هو !

<<احدي صاحب>> هم «خان آباد» ته روان دی!

---

*Løsning gåter:*
a) Ilden. b) Pusten. c) Løvet. d) Synne!
*Løsning Hvem ser han på bildet*:
Hans egen sønn.
*Løsning Trafikk forseelse*:
Kvinnen var fotgjenger.
*Løsning Hva er sammenhengen:* Hvert ord inneholder 3 bokstaver som følger rett etter hverandre i alfabetet. (Se grønn utheving: STUDENT - DEFINITIV - FØRST - SNOP - AFGHANISTAN

*Løsning Alder:* Min sønn er 37 år og jeg er 73 år.

Løsning hvor mange måneder? 12. Alle måneder har minst 28 dager J

*Løsning Hvilket land:* Italia

**Svar:**
1) Aibak 2) Liv Signe Navarsete 3) New York 4) Mohammad Rahim Khoram 5) Østerrike og Sveits 6) Nikosia 7) Japan 8) NRK 9) Barack Obama 10) Rania 11) Kristiansand 12) Cristina Fernandez de Kirchner 13) Snøhetta AS 14) Et lysår er 9 500 000 000 000 kilometer 15) Harald Zwart 16. Au 17) Beijing 18) Maria Haukaas Storeng 19)Spania 20) Stavanger

# اخر به څه کوو؟

ډ.ه سف (غـ ت)- ننګ ها،

کوم د بد بختۍ اور چې د کمو نست پلوه بد بختانو له لا سه زمو ږ په هېواد کې لګېدلی تر اوسه بلیږي . په دې درې لسیزو کې نږدې یو درجن حکو متو نه جوړ شول ،خویوه یې هم ددې بېچا ره ، بې وسه او بې دفا ع ملت سره د رحم معا مله ونکړه.څوک د ایمان دګټلو اوڅوک د شیطان خو شالولو لپا ره قر با ني شول .د منتخب حکو مت له را تلو سره د افغان ولس دا هیلې تا زه شوې چې لوټمارانو سره به حسا ب وشي او امنیت به را شي ، خو له بد ه مر غه دغه وړې هم شړې نه شوې، په دولتي ادارو کې رشوت دومره عام شوې چې خدای (ج) دې د چا کار نه پېښنوي ، په ځان به هغه وخت پو هه شي چې تش جیبو نه د فتر ته ور شي . او بله دا چې زمو ږ په هېواد کي عجیبه غو ندې انصا ف چلېږي ، دلته ډېرې کو نډې یتیمان ،بېچارګان د شنه اسما ن لا ندې د وچې ډوډۍ په چکر کې ګر ځي او د ځینو خدای نا ترسو مخې ته شل رنګه خورا کي تو کي پر اته وي او ډېر خوراک له امله یې خیټې تل خر ابې وي ، دلـته د صدا قت او ایما نداری خبري یو اځې یه کتا بو نو کې لو ستل کېږي او ژوندی بیلګه یـې پـه نظر نـه را ځـي ، په ټول هېوادکې د بیروکرا سۍ تورې وربخې خورې دي ، دلویو دفترونو ما مورین نا وخته کار ته راځي او له قانوني وخته دمخه کورته ځي، د هېواد د ښارونو په ټولو هو ټلونوکې څلور خواته خارجي فلمونه چلېږي،چې زمو نږد ټولنې تنکي ځوانان ورته ډلې ډلې نا ست او د عیا شۍ په ټال ځانګي ، ددې خبرو پوښتنه به څوک کوي ؟ زمو نږ د ټو لنې د سیا سې بصیرت خا وندان خو یوا زې د خبري رسنیو سره په خبرو کولو خپل منتر پخول غواړي ، زمو نږد کابېنې وزیران خو دخیر په غونډې نا ست دي او د خپل کاررسمي وختونه د بهرني میلمنو سره په ملا قا تو نو تیروي ،او د مرا جعینو انتظار ورته هسې لور په لو ټه تېره کول دي ، دملي پارلمان وکیلان د خپل کمپا ین دورځو د لګښتو نو دپور ه کولو په خیال او به خړوي او ما هیا ن نیسي ، زمو نږ په ټو لنه کې اسلا مي اخلاق او افغا ني فر هنګ دځنکد ن په حا ل کي ځګیروي کوي ، زمونږ د ټولنې را بو ټکې شوي شا عران یو اځې د ګودرونو ، منګواو چنا رونو په صفت نه مړیږي ، دلته ټولنیز احساس یو اځې د غونډو په وختو نوکي رنګېنه خبرو ته وایې ، که څوک د ملی سمون او تړون خبرې کوي سا ده معلومیږي ، اخیر تر کومه ؟ نوي ملي اتلا ن به کله پیدا کیږي چې ملت د ملي وحدت لور ته وهڅوي ، احمد شاه با با او میرویس خان نیکه خو بیا دې نړۍ ته نه را ځي ، د هغوی په پل قدم ایښودل ولې نا شوني دي؟ زمونږ افغا ني غیرت او شجا عت کوم سیلا ب وړی دی ؟ دوطن لوټولو او ورانو لو پهلوانان ډېر دي ،خو د جوړوونکو درک نشته او که خال خال خدای پرسته او و طن دوسته څېرې وجود لري د فقر او نېستۍ په مرض اخته دي، نه سیا سي قدرت لري او نه یې څو ک په خبرو غوږ قدرې ګروي ، زمونږد هېواد زیات د علمي او سا ینسي پو هنې لرونکي استاذان په بهرنیو هېوا دونو کې مرغۍ ولي اود دي فقیر او بې وسه ملت له اړتیا و څخه ځا نونه نا ګاره سا تي ، را غلي نړیوال ځوا کونه هم په موږ پو ري ملنډې وهي او د خو دغرضه ضد اسلا مي او ضد افغاني برېڅو په اشارو ورته د بې وزلو افغا نا نو وینه تویول د او بو د بو تل په کچه ارزښت نلري ، هغه وخت به کله راشي چې خپله وخورو او خپل ځا ن په خپله

وسا تو ، تر څو پوري به د نو رو په ولو میاشت ګورو ، تر څوچې خپل ځان او وطن اصلي مانا و نه پېژنو ، دوروولی لا سو نه ورنه کړو ، خپله تګ لا ره معلومه نکړو ، دمخا لف افغان ورونو سره صا دقانه روغه او د خپل هېواد دابا دی او ترقی هوډ ونه کړو ، دپو هي څرک پسې لار وانخلو ، د خود سری او بې سری لا رې بندې نه کړو ، او دخپل ملي نا موس د خوندي سا تلو لپاره ځغلند خو ځنبت ته ځا نونه تیا ر نه کړو او ټول هېوا دوال په یوه ا واز په یوه نو ښتګرانه عمل لاس پوري نکړو نو ځواب راکړی چې اخر څه به څه کوو ؟

---

# رامي پهلوان

لیکونکی: حیات الله ایمل

په پخوا زمانو کې چې ترانسپورت یوائې د حیواناتو د انرژی په وسیله سرته رسېده ، انسانانو له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د ضرورت ټول شیان د حیواناتو د کاروان په شکل انتقالول. په دغه کاروانونو کې له اوښانو، کچرو، خرو او آسونو څخه کار اخیستل کېده.

کاروانونو به تل یو آمر درلوده او ددغه امر په امر به د کاروان ټولې چارې اداره کېدې. په دغه وختونو کې به غله هم په دې په فکر کې وو چې کاروان به څه وخت راځي او په څه ترتیب یې چور او تالا کوي.

رامي پهلوان چې د قلات اوسېدونکی و تل به یې کاروان د خپلو مټو په زور ددې سیمې څخه په امن تیراوه. ددې سیمې ټول غله له رامي پهلوان څخه ډارېدل او هر کاروان به د پیسو په مقابل کې د رامي پهلوان په ضمانت تېرېده.

کاروان د شپې له خوا په کاروان سرای کې تم شو. رامي پهلوان چې ډیر ستړی و ډیر ژور خوب وړې و او د یوې لوړې غونډی په سر ویده و. غله نیمه شپه راغلل او کاروان یې چور کړ خو پهلوان له خوبه راویښ نه شو. په دې وخت کې یو سپین ږیري چې ټول جنسونه ترې غلو په زوره اخیستي و، یوه غله ته وویل : ای غله، هرڅه دې راڅخه واخیستل راشه دا پاتې پیسې هم واخله، خو یو کار وکړه چې دا ویده کس یوه لغته وواهه چې رابیدار شي. غله وخندل او رامي پهلوان یې په لغته وواهه. رامي د خوب څخه راویښ شو او تورې ته یې لاس او سمدستي یې لومړی دا غل وواهه او ورپسې یې نور ټول غله ووهل او په دې توګه یې کاروان له چور او چپاول څخه وژغوره او غلا شوي جنسونه یې بیرته خپلو اصلي خاوندانو ته وسپارل. رامي پهلوان خپله دنده سرته ورسوله او کاروان په عادي حالت خپل اصلي ځای ته ورسیده.

دلته ماته پوښته رایاد شو: په نننی افغانستان کې چې ټول نړیوال او په خپله افغانان د افغانستان د بیا جوړونې هیله لري ، ولې په دې کار نه بریالي کیږي. سوله نشته، رشوت، غلااو قاچاق لوړې کچې ته رسېدلي. د بشرحقونه تر پښو لاندې کېږي، د قانون څخه سرغړونې خپل اعِظمي حد ته رسیدلي دي، هیڅوک د کونډو رنډو، یتیمانو، معلولینو او شهیدانو اوازونه نه اوري او ټول کاڼه شوي دي. په اصل کې رامي پهلوان ویده دی او اوس داسې یو څوک په کار دی چې رامي په لغته ووهي او له خوب څخه یې رابیدار کړي تر څو کاروان (افغانستان) د غلو څخه وژغوري.

| | |
|---|---|
| د وخت جابر راباندې خپل قانون په خپله مني | دوی له تکبیر سره جګړه کړي هغوی بله مني |
| د ځان په غوښو به اخته شې دظالم بچـــیه | خاوند رحمان دی سوی اه به له کابــله مني |
| هر اور پښتون ته ځان راورسوي کور یې بولي | بس هر شمال ته به لبیک لکه مرخــله مني |

دادمحمد طوفان

# د ټو لنې جو ړ ونه که د ځان !؟

يـو سف ( غيرت )

دا به ووايو چې مو ږ افغا نان هم د نورو ملتو نو په شان د يو ملت په نوم يا د ېږو ، ځا نګړې کلچر ،تاريخ ، ملي روايات او د اسلا مي خو ځښتونو په لا ره کې دتا ريخ پـه پا ڼو يو ويا ړلی با ب لرو ، چې د شلمې پېړۍ په لومړيو دوه لسيزو کې د فرنګيا نو او د همدې پېړۍ د اوا خرو په دوه لسيزو کې د وخت د شوروي اتحاد د سامرا جي لښکرو ما ته يې ښکا ره ببلګې دي ، نو داچې زمو ږ په افغا ني ټو لنه کې په علمي ، سيا سې او تخنيکي ډګرو نو کې د پا م وړ کد رونه او شخصيتونه و جو د لري او هم ځمو ږ هېواد د طبعي شتمنيو له زېرمو څخه بر خمن دی ، او الحمدالله د کارکولو صلا حيتو نه هم په افغا نا نو کې د هر چا څخه زيا ت دي ، نو بيا کومه بلا په مو ږ را پرېوتې چې په نړيواله کچه فقيران او د سوال کچکول مو په

غا ړه ځوړند دی ، ايا دا د بد مر غۍ څپېړې به تر عمره پورې زموږپه سرونو ځوړندې وي؟ دا ټو لې هغه پو ښتنې دي چې هر افغان يې ځواب غواړي ، مګر له بـده مر غه زمو ږ په افغا ني ټو لنه کې ددې ټو لو بدبختيود ختمولو لپاره په ملي کچه پـلا نيزه او رغنـده خو ځښت وجو د نلري ، مو نږ دا منو چې زمو ږ په دې ښوزلي هېواد کې ددرې نيمو شلو(۷۰)څخه زيات سيا سي ګوندو نه وجو د لري اوهر سيا سي ګوند په افراطي ډول د هېواد د ابا دولو او سمسورلو نغارې وهي خو د ډېر افسوس خبره داده چې د (۵۰ )کالو راهيسې زمو ږ په هېواد کې د شفا فيت په لاره د تللو د ملي او اسلامي هيلو يو دا سې مخکښ کاروان تر ستر ګو نشو چې د ملي او اسلا مي پولو څخه يې سر غړونه نه وي کړې او يا يې خپله سپېڅلې ا يډ يا لو ژي د شخصي ګټو او ځان پا لنې څخه نوي قربا ني کړې ، مو ږ وينو چې نړيواله ټو لنه زمو ږ د هېواد په بر خه ليک کې ځـانـونـه شر يکوال بولي او د خبري رسنيو د لارې دا ډنډورې غږوي چې په افغا نستان کې د امنيت او سولې لپاره کار کوو ، مګر بر عکس حا لا ت بل لورې ته روان دي او هم په دولتي اورګان کې داسې کو مې ادارې نه ليدل کېږي چې د رشوت فر هنګ پکې رواج ونلري ، د ميډيا د لا رې خو هر چاروا کی رنګينه خبري او لا پې شا پې کوي ، مګر په حقيقت کې خبره سرچپه ده او ددولت هر کا رمند دخپل توان او صلا حيت په اندازه په خپله دنده کې ريښتنی نه برېښي ، د خپل ځا ن او کورنۍ څخه يې په بل چا ستر ګې نه خو ږ ېږي،تل ددولت د خزانې څخه خپل

جيبو نو ته ځا نګړې لا رې بېلوي او مو خه يې د خپل ځا ن لپا ره د کورونو او موټرو پيدا کـول دي او ددې شـعار لا نـدې چـې ( او ل ځان پسې جهان) د خپلې ټو لنې او ملي مسوليتونو په وړاندې بي تفا وته معلـومېږي البتـه زمو ږ په ټو لنه کې ډېرې ، وطن پاله او خدای دوسته څېرې و جو د لري خو هغو مره هم نه دي چې حسا ب پرې و شي همدا لا ملو نه دي چې په څو مره و اټن سره نړيوال د پر مختګ په لوري يون کوي په هما غه وا ټن سره مونږ پر شا روان يو ، نو اړينه بو لم چې ديو درديدلي او کړه مند افغان په صفت ټو لو هېواد والو ته پو هان وي که دهقا نان ، سيا ستوال وي که پا نګه وال دا پيغام ډا لۍ کړم چې د توانا ذات د رضا او ددې بي وسه او بېکسه ټو لنې د بقا او پا يښت په نيت د خپلو شخصي او دولتي کړنو په اړوند د زمه وارۍ احساس پيدا کړو ، او د هر افغان ورور حقوقو ته په خپلو شخصي حقوقو د اولیت حق ورکړو او د ځا ن جوړولو په ځاي د ټولنې جوړول خـپل هـدف و ګر ځوو ، په افغاني ميړانه او شجاعت سره د ايمانداری په سپېڅلي روحيه د ر شوت ، خيا نت ، او جها لت ټغر ټول کړو او د وطن لو ټونې په ځا ي د و طن جوړونې لا ره خپله کړو نو بيا به په غړيدلو ستر ګو ووينو چې د افغانستان ځوريدلي و لسونه به په هر ازميښت کې بر يا لي راوزي او ديو اباد ، سوکاله او پر مختللي افغا نستان په جوړولو کې به بر لا سي او بريا لي شو.

و من الله تو فيق

هايکو

ښه کاميابي وه د مېوند جګړه کې          نن يې لېلام افغانستان کړ راته

# محمد عثمان خان ساپی

زمونږ غازیان

محمد عثمان خان ساپی د نورمحمد خان زوی د امیرمحمد ، پیرمحمد او محمد شاه خان ساپي ورور و ،چې د شمالي د تګاو او دهغه په شاوخوا سیمو کې یې لویه هستي درلوده. دی د خپل ټبر مشر او یو غیرتمن افغان و.
محمد عثمان خان ساپي د حکومت سره دسیمې په ادراه کې تل مرسته کوله او ددغې مرستې په اساس امیرعبدالرحمن خان د محمدعثمان خان لور خپل زوی حبیب الله لپاره وغوښته او د سردار عنایت الله خان نائب السطنه مور د محمد عثمان خان لور وه.

پر افغانستان باندې د انګریزانو په دوهم یرغل کې هغه وخت چې د انګریزانو قواوو ملي مجاهدین دکابل د حاکمو برخو څخه راشړوه کړل او د هندو کلا ته یې اور واچاوه، په ډېر غرور او تفاخر سره یې بیرته د شیرپور په خوا حرکت وکړ، د مرنجان د غونډۍ په برخه کې د تره خیلو ملي مبارزینو پر دوی یرغل وکړ او زیات شمیر یې ووژل.
څرنګه چې د ملي مبارزینو شمیر د انګریزانو د لښکرو په نسبت بیخي لږ وو او جنګي وسلې یې نه درلودې ، نو په جنګي مهارت سره تر شاراغلل او د احمدخان کلا ته ننوتل. د انګریزانو قواوې هم شیرپور ته راغلې او همهلته یې استراحت وکړ.
په دا بله ورځ محمد عثمان خان ساپی د تګاو او نجراو د ملي مبارزینو سره په ډېره چټکۍ کابل ته راننووت او د لمرختو په وخت کې یې د اسمایي غر د څوکې څخه پر انګریزانو یرغل پیل کړ. دوی د انګریزانو پر هغه لښکرو چې دوو توپونو سره یې د غره په سر د ملي مبارزینو د حملو انتظار ویست حمله وکړه او سخته ماته یې ورکړه.
ملي مجاهدینو د اسمائي غر د حاکمې برخې ساتونکي یا ووژل او یا یې ټپیان کړل. د غر د سر او شاوخوا ټولې لوړې او ژورې یې په خپل تصرف کې راوستې او د انګریزانو د بیخي ماتولو له پاره یې تیاری ونیوه.
((هووار هنمسن)) په خپل مشهور اثر ((د افغان دوهمه جګړه)) کې لیکي:

انګریزانو د محمدعثمان خان ساپي یو خپلوان ته چې سرفراز خان نومېده دا دنده ورکړه، چې که محمد عثمان خان پر کابل باندې د یرغل کولو څخه منصرف کړي، ده ته به درې لکه کلداري د مکافات په توګه ورکړل شي. محمد عثمان خان دغه پیشکش و نه مانه او خپلې مبارزې ته یې دوام ورکړ.

په همدغه وخت کې آوازه خپره شوه، چې جنرال غلام حیدر خان څرخي د لوګر، خوست او ګردیز یو زیات شمیر ملی مبارزینو سره د کابل شاوخواته را نژدې شو. انګریزانو د ځانونو د ساتلو لپاره د کابل د لارو په بندولو اقدام وکړ. یو ټولی عسکر یې د توپونو په مرسته د مرادخانی څخه تر ریکاخانی او لاهوری دروازې، زنده و انانو او مرنجان له بیخه څخه مامور کړ چې په صف او لیکه ودریږي او همداشانې یې یو کنډک د امیر شیرعلي خان د باغ چې حرم باغ ورته ویلی کیده محمد عثمان خان تر باغه دده افغانانو تر څنډو د عالم ګنج تر باغه د خرخ ګیري دروازې د اسمایي غر پر شاوخوا راوګرځاوه. د لښکرو پاتې برخه یې ددوو توپونو سره د کلوله پشتې قلعه بلند نه چې هلته د وسلو ذخیر وه وخیژول. هغه وخت چې دغه حساسې او حاکمې نقطې یې اداره او ټینګې کړې په یرغل یې پیل وکړ. د شیر دروازې او قلعه بلند د څوکو څخه یې پر محمدعثمان خان ساپي چې په اسمایي غر کې و د توپونو واري پیل کړه او خپلو نورو قواوو ته یې د غره د ورختلو امر ورکړ او سخت جنګ پیل شو. ددغه جنګ په نتیجه کې د کابل ښار او غرونه د توپو دډ زوپه دودونو کې پټ شول. ددواړو خواوو څخه زیات میړونه ووژل شول، د محمد عثمان خان د لښکرو څخه چې څه پاتې شول ځانونه یې په یوه ګوښه ځای کې غلي کړل، خو محمدعثمان خان ساپي د خپلو اتوو تنو ټینګو او ننګیالیو ملګرو سره تر هغه وخته مقاومت وکړ څو ټول شهیدان شول.
په همدغه وخت کې یوشمیر غازیانو چې ماته یې کړې وه او د مرادخاني اوسیدونکو ته یې پنا وروړې وه هغوی د انګریزانو په لاس ورکړل چې ټول یې ووژل. ددوی مقبرې همدا اوس دارګ د باغ د شمالي برخې ددیوال په بیخ کې شته چې د امیرعبدالرحمن خان په امر ګنبده باندې جوړه شوې ده.
سراج التواریخ ددغې ملي مجاهدې څه زیات تشریحات ور کوي او لیکي:

(.مقارن اینحال که هنوز د اثره قتال وجدال خاموش نه گشته و مردان کارگرفتار پیکار بودند ، جنرال محمد جانخان با انبوهی از غازیان قلعه چهاردهی جای گزیده بود و صدای توپ و تفنگ جنگ از راه مدافعه در میدان میان مزار شاه مردان و قلعه علی آباد




غازي محمد عثمان خان ساپی (تگابی)

انجمن گشته روبه میدان کارزار نهادند ، باآنکه تمامت مواضع مستعده چون قلعه کوه اسمایی و فراز جبل شیر دروازه و غیره در تصرف سپاه انگلیس بود و توپ خانه و اسلحه دولتی نیز باخود داشت غزات شجاعت سمات بانکه حرب چنانچه باید در مقابل سپاه دولت بکار آید نداشته به یاری صاحب دین و تائید حضرت جهان آفرین دلیرانه حمله کرده انگلیستان را از پیش برداشتند و توپ دولتی را متصرف شده الی کوه شیر دروازه دیگر همه مواضع را از وجود ایشان تهی ساخته همه را داخل شیرپور نموده محصور ساختند دراین جنگ زنان سالخورده افغانان نیز حاضر و بیرق جهاد بر دوش داشتند.....)

لنډه كيسه

# اوښ خپل خاوند و نه بابښه

لیکونکی: قاضي زوی

وايي چې يو وخت د يو اوښ خاوند ډير ناروغه و او د ډيرو دارو درملو د استعمال وروسته يې هم په روغتيايي حالت كې څه ښه والی رانغی. د اوښ خاوند نوره د روغتيا هيله له لاسه وركړه او په دې فكر كې شو چې څرنګه چې د مرګ وخت څرګند نه دی نو راشه د خپلې كورنۍ د غړو او حتا د خپلو څارويو څخه هم بښنه وغواړه.
داوښ خاوند لومړی د خپلې كورنۍ د ټولو غړو څخه بښنه وغوښته او بيا يې د خپلو څارويو څخه د بښنې غوښتنه پيل كړه.
غوا ، غوايي، مېږو ، خرو او حتا چرګانو له خپلې بښنې څخه برخمن كړ. په پا ی كې د اوښ څخه د بښنې وار راورسيد.
د اوښ خاوند په ډيره عاجزۍ سره د اوښ څخه د بښنې غوښتنه وكړه. اوښ لږه شېبه غلی شو او بيا يې خپل خاوند ته وويل: نه، نه دې بښم ځكه په ډير ټيټ نظر دې راته كتلي او سپكاوی دې راته كړی دی.
د اوښ خاوند په ژړغوني اواز وويل چې ای اوښه څه سپكاوی مې درته كړی؟
اوښ په ځواب كې ورته وويل: كله چې به تاسو له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته كوچېدلئ نو د كور ټول سامان، تر غلبېل او چرګانو پورې به دې په ما بارول او بيا به دې كوچني ماشومان هم د بار پر سر پر ما كښېنول. ما له دې ټولو سره سره هيڅ غبرګون نه ښوده او نه مې كوم اعتراض كولو ځكه چې زه خو الله ج د انسانانو د چوپړ لپاره پيدا كړی يم. خو ، هغه مهال چې به كاروان حركت ته چمتو شو په دې وخت كې دې ډير سپكاوی او بې عزتي راسره كوله او هغه داچې زه به دې د خره په لكۍ پورې تړلم او هدف او موخې ته د رسيدلو پورې به زه په خره پورې تړلی روان وم. دغه سپكاوي زه ډير زورولم او زما د ژوند ډيره بده خاطره ده او هيڅكله مې هم له ياده نه وځي، ځكه درته بښنه نه كوم.

درنو لوستونكو: د پورتنۍ كيسې څخه داجوتېږي چې حتا ژوي هم سپكاوی او بې عزتي نه مني او نه يې زغملای شي، نو انسانان چې پوره پوهه او شعور لري كله بې عزتي او سپكاوی قبلولای او منلای شي. هيله ده چې په افغانستان كې ښكېلاكګر ځواكونه افغانان پرېږدي چې د خپل هېواد نظام او واكمن په خپله و ټاكي او نور يې د خرو په لكيو پورې و نه تړي.



#ديني لارښوونې

د سپين غر مجلې قدرمنو لوستونكو،
د مجلې چلوونكې ډلې پريكړه وكړه چې دپه دې ګڼه كې د جمعې د لمانځه د اهميت او فضيلت، دجمعې د لمانځه شرايط او حمكونه او همدارنګه د امام جوړيدلو شرايط او صفتونه خپلو قدرمنو لوستونكو ته وړاندې كړي.

د جمعې د لمانځه اهميت:
دجمعې د لمانځه وخت د ماسپښين د لمانځه وخت او دوه فرض ركعتونه دي. اللهج د پاک قرآن د جمعه د سورت په نهم ايت كې د جمعې د لمانځه په هكله فرمايي: اى هغو كسانو چې ايمان مو راوړى دى، كله چې د جمعې د لمانځه لپاره اذان وشي نو وځغلئ يادولو او ذكر د اللهج ته او ټول كاروبار پريږدى، يانې پېرل او پلورل. تاسو پوهيږى دا ستاسو لپاره ډيره غوره ده.

حضرت محمدص د جمعې د لمانځه د غوره والي په هكله فرمايي: د اونى په ټولو ورځو كې د جمعې ورځ غوره ده. په مسلم شريف كې حديث دى ،چې حضرت محمدص فرمايي: حضرت ادم عليه السلام د جمعې په ورځ پيدا كړى شوى او په دې ورځ جنت ته ننوت او د جمعې په ورځ به قيامت راځي.
په بخاري او مسلم كې د نبي صلى الله عليه و سلم يو حديث نقل شوې ،چې حضور فرمايلي دي: د جمعې ورځ په مخكې ټولو امتونو كې مشتركه وه، مګر هغوى اختلاف وكړ. يهودو د خالي (شنبې) او نصاراوو (عيسويانو) د اتوار (يكشنبې) ورځ غوره كړه. اللهج مونږ ته لارښوونه وكړه ،چې مونږ د جمعې د ورځې لوى والى او عظمت وساتو.

دجمعې د لمانځه حكم:
د جمعې لمونځ فرض عين دى، يانې په هر نارينه باندې يې ادا كول بې له كوم شرعي عذره فرض دي. د جمعې د لمانځه څخه منكر كافر او په قصدي توګه يې پريښودونكى فاسق دى. رسول الله عليه وسلم فرمايلي دي ،چې مسلمان دې د جمعې لمونځ نه پريږدي، او كه نه الله تعالى به ددوى په زړونو مهر ولګوي او هغوى به په غفلت او بې پروايې كې پريوځي (مسلم).
د جمعې لمونځ په كومو خلكو فرض دى؟ د جمعې لمونځ په هوښيار (عاقل)، بالغ، ازاد، روغ او مقيم مسلمان فرض دى. په نابالغو كوچنيانو، ناروغو، ړندو، مساپرو او په ښځو باندې د جمعې لمونځ نه دى فرض. كه دا خلک د جمعې لمونځ وكړي د ماسپښين لمونځ پرې نشته.

د جمعې د لمانځه شرطونه:
١- كه په يو كلي يا سيمه كې پنځلس يا شل مسلمانان مېشت وي او په هغوى كې لږ تر لږه دولس تنه بالغ او د لمانځه كولو شرايط ولري، او په دغه سيمه كې د اړتياټول څيزونه پيدا كيږي، په دغه سيمه كې د لمونځ كول روا (جايز) دي. د جمعې په لمانځه كې بايد له امام څخه سربيره درې نارينه موجود وي، او كه درې تنه مقتديان موجود نه وي د جمعې لمونځ جايز نه دى.

۲- د جمعې د لمانځه وخت د ماسپښین د لمانځه وخت دی. که د ماسپښین د لمانځه وخت تیر وي د جمعې لمونځ کول روا(جایز) نه دي. لمونځ په خپل ټاکلي وخت اړین دی. الله ج د پاک قرآن د نساء د سورت په ۱۰۳ ایم ایت کې فرمایي: بېشکه چې لمونځ پر مومنانو فرض کړی شوی دی په ټاکلو وختونو کې.
۳- د جمعې په لمانځه کې دوه خطبې ویل واجب دي.
۴- ددواړو خطبو په منځ کې کښیناستل (دمه کول).

۵- د حضور صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده ،چې د لمانځه څخه د خطبې اوریدول په کار نه دي.
۶- د خطبې د لوستلو په وخت کې چپ کښیناستل اړین دي، لمونځ او نور څه کول په کار نه دي. البته که مخکې له خطبې څخه لمونځ پیل شوی وي پوره کولای يې شي. همدارنګه د خطبې د لوستلو په مهال د سلام ځواب ورکول او د قرآن کریم تلاوت منع دي.
۷- د جمعې په ورځ دوه اذانونه کول اړین دي. د لومړي اذان نه پس د لمانځه تر پایه پورې د نارینه مسلمان لپاره کاروبار کول حرام دي.
اړینې یادونې: د جمعې خطبه په لاسپیکرونو او نورو وسایلو کې جایز دي.

د جمعې د ورځې ادبونه:
الف: د جمعې په ورځ لمبل، پاکې جامې اغوستل او خوشبويي استعمالول سنت دي.همدارنګه د جمعې په ورځ ویښتان جوړول، نوکونه پریکول او د نامه لاندې ویښتان پاکول هم سنت دي.
ب: خطبه په اوچت او ښه آواز ویل په کار دي.همدا شان جماعت ته د رسیدلو په وخت کې کوم ځای چې ځای پیدا کیږي کښیناستل په کار دي. ځینې خلک دانګې رادانګي، حضور صلی الله علیه وسلم ددې منع فرمایلې ده.
ج: د جمعې په ورځ څومره چې څوک مخکې جماعت ته ولاړ شي په هغه کچه زیات ثواب مومي.

د کومو کسانو امام جوړول په کار دي:
د امام مانا ده لاربښود او مشر، او د مقتدي مانا ده وروسته تلونکی. په امام کې باید د امامت اهلیت، پوهه او صلاحیت موجود وي، ځکه په اسلام کې امام ډیر لوړ مقام لري. ټول پیغمبران د خپلو امتونو امامان وو. زموږ نبي حضرت محمد ص په خپله امامت کاوه. همدارنګه خلفای راشدینو هم په خپله امامت کولو. څرنګه چې امامت ډیره سپیڅلې دنده او امام لوړ مقام لري نو اړینه ده چې د امام په ټاکلو کې ډیر غور او پاملرنه وشي.
امام باید د لاندینیو شرایطو لرونکی وي:
۱- دیني عالم چې په قرآن او احادیثو پوه وي او په هغې باندې عمل کوي. که علم ولري او عمل پرې نه کوي، نو دده څخه هغه څوک غوره دی چې د قرآن او سنتو تابع وي، که څه هم ډیر علم و نه لري.
۲- که دیني عالم او پوه موجود نه وي نو له هغه چا امام جوړول په کار دي چې قرآن په صحیح او ښه توګه لوستلی شي.
۳- که دیني عالم او د قرآن قاري موجود نه وي، نو هغه څوک د امامت وړ او مستحق دی چې په ګټه وټه، خوړلو، څښلو او ټولو کارونو کې د حلالو او حرامو خیال ساتي، که څه هم عالم نه وي.
۴- که د پورتنیو صفتونو لرونکی موجود نه وي، نو بیابه د زیات عمر لرونکی، ولې داکس باید د ښو اخلاقو لرونکی، با پته او باعزته وي امامت کوي.

د لاندې کسانو امامت مکروه دی:
۱- بدعتي، یانې چې په دین کې نوې خبرې او کارونه راپیدا کوي.

۲- فاسق، یانې هغه څوک چې بې عمله وي، په قرآن او سنتو عمل نه کوي او د ګناه د کارونو څخه ځان نه ساتي.

۳- د جاهل او ړانده امامت مکروه دی. هغه ړوند چې د خپلې پاکۍ خیال ساتلی شي د هغه په امامت کې کومه ستونزه نه شته.
۴- د سودخور، حرام خور او داسې نورو امامت مکروه دی.

استونکی: زرنیل ایمل
المیره- هالنډ
09.06.2008

# د مشرانو خبرې

## د لقمان حکیم د خولې خبرې:

۱- خدایﷻ وپېژنه.
۲- کله چې چا ته نصیحت کوې په خپله پرې عمل کوه.
۳- د هر سړي قدر وپېژنه.
۴- خپل ملګری په سختۍ کې وازمویه.
۵- خپل راز خپل ځان سره ساته.
۶- خبرې په خپله اندازه کوه.
۷- خپل دوست په ګټه او تاوان وازمویه.
۸- عاجزي خپله دنده وګرځوه.
۹- د ځوانۍ عمر غنیمت وګڼه.
۱۰- د مور او پلار ژوند غنیمت وګڼه.

## سید جمال الدین افغاني وايي:

۱- آزادۍ ته څوک په تشو ویناوو نه شي رسیدلای.
۲- آزادي اخستل کېږي ورکول کیږي نه.
۳- د ازادۍ هیله د کار او عمل له پاره ده.
۴- یو قوم ته تر هغه ژوندی نه شي ویل کیدای او نه حقیقي ژوند لري، چې ترڅو د آزادۍ له پاره د جګړې په ډګر کې مرګ ته په خندا خندا استقبال و نه کړي.
۵- غرورکول انسان تباه کوي، تر څو ګناه نه وي او فجایع زیاتې نه شي، خلک به د هلاکت سره مخ نه شي.
۶- قدرت او چوکۍ د حمام لنګ دی.
۸- مقام او منصب د غره په شان دي، ورجیګیدل ګران او کښته کیدل ترې اسانه دي.

# دبنجاري خورجين : هوسۍ

محمد آصف عمر

شاه بي بي او شازيې د نانځکې په مېله کې چمبه وهله، چې په دې وخت کې لعل محمد راغی او ويې ويل، چې د خوراک لپاره څه شی لرئ؟ نجونو ورته وويل، چې بانجان، بادرنګ او بادام.

لعل محمد حېران شو، چې د ټولو خوړو په نومونو کې د"ب" د توري غږ دی. په دې وخت کې د شاه بي بي او شازيې هم پام شو، چې رښتيا ددې نومونو په پيل کې دب دتوري اواز دی.

په دې وخت کې بنجاري هم راغی او د موضوع په باب خبر شو. بنجاري وويل چې د "ب" د توري په اړه خو موږ او تاسې خبرې کړې دي، خو اوس راځئ، چې د"ب" له توري سره د يو بل توري غږ هم يوځای کړو.

بنجاري د (ب) له توري سره د(الف) دتوري د يوځای کېدو مثال راوړ چې (با) کېږي . وروسته بنجاري له ماشومانو څخه وپوښتل، چې د (ب) له توري سره د (د) توری يوځای کړئ ؟

ماشومانو په پيل کې لږه لږ غلطي وکړه خو وروسته يې سم وويل. بيا يې يوله بله پوښتنې پيل کړې، مثلا (ب) له (چ) سره (ب) له (ع) سره، چې په دې ډول ټولوسم ځوابونه وويل.

بنجاري د هغوی پوهه وستايله او هغوی هريوه ته يې له خورجين څخه يوه يوه لپه بادام په ډالۍ( تحفه) کې ورکړل او خپله بلې کوڅې ته ولاړ.

بنجاري له خپلې دې دهمېشنۍ سندرې سره بلې کوڅې ته راغی:

( بنجاري راغلی ډکه خورجينه ـ سيخکان قيتکان پکې لرينه ـ راووځئ وړو ، چې ببرته ځينه). په دې وخت کې ماشومان خبر او پر بنجاري راټول شول.

تر روغبړ وروسته مرضيې او ميرويس له بنجاره څخه وغوښتل، چې د کابل ژوبڼ (باغ وحش) وروښيي ځکه، چې موږ ته خلکو په دې باب ډېرې کيسې کړې دي.

بنجاري هم له خورجين څخه جادويي هنداره راوايستله او دامنتر يې پر ووايه:.

سم سم سازه نا ، راوښيه رازا نا ، انانتا بنا ننا ، غټه که هنداره ننا ، موږ دننه که د کابل په باغ وحشا ننا ، زم زم زينا ، بم بم بينا هو.

له دې سره سم ماشومانو ته دکابل باغ وحش راڅرګند شو. ماشومانو د باغ وحش مرغۍ اوحيوانات وليدل.

دوی هوسۍ وليده خو خيال يې وکړ، چې دا وزه ده خو دباغ وحش دمسلکي چارو مسوول شاه نوري ورته وويل چې داهوسۍ ده.



ماشومان دهوسۍ رنګونو ته متوجه شول، چې سوربخن فولادي، خړ، ژېړ او نور رنګونه لري. همدارنګه يې له شاه نوري څخه وپوښتل، چې هوسۍ چېرې پيدا کېږي؟

هغه ځواب ور کړ چې هوسۍ اکثره د افغانستان په هلمند ، فراه، نيمروز او بدخشان ولايتونو کې پيدا کېږي.



زموږ په باغ وحش کې درې ډوله هوسۍ شته، چې ميل، بره يي او غرنۍ يا غرڅه نوميږي، يو بل ډول هوسۍ هم شته چې مارکوپولو نومېږي خو زموږ سره نشته.

هوسۍ واښه او پاڼې خوري او ډېرې چټکې منډې وهي.

تردې وروسته بنجاري بيا له خورجين څخه هنداره راوايستله منتر يې پر ووايه او د هغې هينداري په مرسته ماشومان بېرته خپلو ځايونو ته ورسېدل او بنجاري بل کلي ته ولاړ.

شبيراو تورپېکۍ د بنجاري په ليدو ډېره خوشاله شول. تررو‌غبړ وروسته بنجاري ماشومانو ته وويل، يوه ټوکه ورته ووايي، شبير هم داټوکه ورته وويله:

يو هلک بل نا اشنا هلک ته په لاره کې سلام  واچاوه، هغه وپوښتل چې ته ما پېژنې چې سلام دې راواچاوه؟

هغه وويل چې نه، نه دې پېژنم خو بوټونه او بکس دي زما د بوټونو اوبکس غوندې دي، ځکه مې سلام درواچاوه .

بنجاري او ماشومانو پر ټوکه وخندل، وروسته بنجاري له ماشومانو څخه وغوښتل چې همداسې نورې ټوکې هم پيدا او له خپلو ملګرو سره دې ووايي.

# ځومره معلومات لرئ؟

۱- د سمنګانو د ولایت مرکز کوم دی؟
۲- د ناروې هېواد د ترانسپورت وزیره څه نومېږي؟
۳- د نړۍ یو مشهور پارک چې سنترال پارک نومېږي په کوم ښار کې پروت دی؟
۴- د افغانستان د کلتور وزیر څوک دی؟
۵- د ۲۰۰۸م کال د فوټبال د اروپايي اتلولۍ لوبې په کوم هېواد(هېوادونو) کې ترسره شوې؟
۶- د قبرس پلازمېنه (مرکز) کومه ده؟
